# ډاکټر صاحب شاه صابر ریفرنس

پښتون رپورټر




ډاکټر صاحب شاه صابر د مارچ په نهمه کال ۱۹۵۶ د ملاکنډ ایجنسۍ په سخاکوټ کلي کښې زېږېدلے ؤ او د اپریل په درېمه ۲۰۰۷ د زړۀ د دورې له کبله وفات شو. ډاکټر صېب کۀ یو خوا پښتو شاعرۍ ته د تکل، خوبونه او قامتونه قیامتونه ورکړې وو نو "واورې او ګلونه" افسانې ئې هم د ترقي پسند او قامي سوچ او نظر یوه معتبره حواله ده. "پښتو ادب کښې تحقیق او تنقید" چاپ اثر نه علاوه په دغه دقیقه او مهمه موضوع د مرحوم ډېر ناچاپه آثار د پښتو ادب لویه سرمایه ده چې پکښې:

1. پښتو شاعرۍ کښې ټولنیز مافیت د (ایم فِل مقاله).
2. دِ پښتو شاعرۍ په وده کښې د تنقید کردار (د پي ایچ ډي مقاله).
3. تنقید او د تنقید ډولونه.
4. د تنقید تاریخ.
5. رڼا او رنګونه (مقالې)
6. پښتانۀ او پښتو ټپه.

او په مختلفو مجلو کښې چاپ د هغۀ بې شمېره تحقیقي او تنقیدي مقالې شاملې دي.

د اپریل په اووم تاریخ باچا خان مرکز پېښور کښې د "اریانا انسټیټیوټ فار ریجنل ریسرچ اینډ ایډواکسي" له اړخه د ډاکټر صاحب شاه صابر د دوېمې کلیزې په حواله د هغۀ په ژوند، فن او نظر یوه غونډه وشوه چې پکښې د مرحوم د یارانو دوستانو او خپلوانو سره سره د ژوند د بېلابېلو څانګو سره تعلق لرونکو خلقو او د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي عهدېدارانو او د اسمبلۍ غړو ګډون وکړو.

د غونډې د نظامت فرائض امجد شهزاد او اسرار اتل ترسره کړل او صدارت ئې د پېښور

پوهنتون د پښتو څانګې رئیس ډاکټر راج ولي شاه خټک وکړو.

په پریزیډیم کښې ورسره د ډاکټر صابر ډېر نزدې ملګري خالق زیار، د دانش خپروندويې ټولنې مشر اسدالله دانش ساپے، د ټېکسټ بُک بورډ پېښور چیئرمېن ډاکټر فضل الرحیم مروت او د آریانا انسټیټیوټ فار ریجنل ریسرچ اینډ اېډواکسي اسلام اباد کوارډینېټر ډاکټر خادم حسېن عامر ناست وو. د غونډې د پرانستې وینا د آریانا غړي ګلزار خان وکړه دهٔ ووې چې زمونږ ټولنه به د پښتون ثقافت کلتور، قامي تشخص او حقونو دپاره خپلې هلې ځلې جاري ساتي او په دغه حواله به د مختلفو پروګرامونو انعقاد کوي او مختلف پراجېکټس به په وړاندې بیائي. ګلزرا خان د آریانا له طرفه د ډاکټر فضل الرحیم مروت په لاس رحمت شاه سائل ته او د ډاکټر خادم حسېن عامر په لاس ډاکټر خالق زیار ته د ګلونو ګېډۍ وړاندې کړې. د دې نه پس د اسلام آباد نه راغلي د ډاکټر صابر ملګري اکبر سیال د هغهٔ په حقله خپل یادونه وړاندې کړل او د هغهٔ په شخصیت ئې رڼا واچوله. سیال د صابر په نوم لیکلے یو په زړۀ پورې نظم د هغهٔ روح ته ډالۍ کړو.




څۀ خوبونه د رڼا د پلوشو په طمعه ناست دي
د خیالونو ښاپېریه چرته غبب ئې چرته ورک ئې
د دې غرونو د لمنو اور به څوک وژني صابره
زما سیاله غرڅنیه چرته غبب ئې چرته ورک ئې

د سیال نه پس د پښتو مشهور سندرغاړي حشمت سحر د صابر د نورو غزلونو سره سره «خوبونه» نظم په ترنم کښې وړاندې کړو چې ټول محفل ئې ژړغونے کړو.

وروستو پروفېسر اباسین یوسفزي د صابر سره د خپلې ملګرتیا ډېر خواږۀ یادونه رایاد کړۀ او د هغهٔ د ژوند او فن احاطه ئې په مختصره خو جامع انداز کښې وکړه. ورپسې علي اکبر ملاکنډ خپل نظم وړاندې کړو. د هغهٔ نه پس رحمت



شاه سائل د صابر په حواله خپل ليکلے مضمون د "مونږ او صابر" د عنوان لاندې واورولو. د صابر د طالب علمۍ نه واخله تر مرګه پورې د هغۀ سره پېژندګلو، تعلق او بيا وروستو د کلکې ملګرتيا تفصيلي ذکر ئې وکړو. د سائل صېب نه پس د مشهور موسيقار صاحب ګل سندرغاړي زوی "سائل" د صابر کلام په ترنم کښې وړاندې کړو.

وروستو سعدالله جان برق په خپلو خبرو کښې د صابر ناڅاپه مرګ د پښتو شعر و ادب او تحقيق و تنقيد دپاره لوئے تاوان وګڼلو. ورپسې طفېل زرياب خپل نظم واورولو، د زرياب نه پس محب الله شوق د مختصرو خبرو نه پس په صابر ليکلے خپل نظم وړاندې کړو. ډاکټر يار محمد مغموم هم د صابر سره د خپلې اوږدې ملګرتيا ذکر وکړو او خپل يادونه ئې د غونډې شريکوالو سره شريک کړل.

ورپسې د آريانا انسټيټيوټ اسلام آباد کوارډينېټر ډاکټر خادم حسېن عامر د صابر د نظرياتي مبارزې په تفصيل سره ذکر وکړو او د هغۀ د شاعرۍ علمي جائزه ئې د معروضي حالاتو او د هغۀ د نظرياتي مفکورې په رڼا کښې واخسته. د عامر صېب نه پس د ټېکسټ بُک بورډ چئيرمېن ډاکټر فضل الرحيم مروت د صابر د نظرياتي مبارزې په حواله تفصيلي خبرې وکړې او وې وئيل چې ما اول اول کښې صابر د شاعر په توګه نۀ بلکې د يو سياسي مبارز په حواله پېژندلو، هغه يو سرګرم سياسي مبارز ؤ او ټول عمر ئې د يوې مفکورې دپاره کار کړے دے. د ملاکنډ سازش کېس په قېديانو کښې د سائل صېب، افراسياب خټک صېب او نورو ملګرو سره د ټولو نه کم عمره قېدي صابر ؤ، هغۀ د باچا خان ريسرچ سنټر په قيام



کښې هم ډېره لويه برخه لرله خو افسوس چې عمر ورسره وفا ونۀ کړه. د مروت صېب نه پس ډاکټر خالق زيار د صابر په حواله تفصيلي خبرې وکړې او په صابر ئې د خپل ليکلي نظم يوه مصرعه وړاندې کړې شوه بيا ژړغونے شو او نور نظم ئې ونۀ وئيلے شو.

په مخ مې کرښه د ارمان شوې لاړې

ډاکټر راج ولي شاه خټک په خپله صدارتي خطبه کښې پښتو ادب کښې د صابر د تحقيقي او تنقيدي اثارو ذکر وکړو، هغۀ د يو محقق او نقاد صابر د شخصيت کار او زيار تفصيلي جائزه واخسته او شريکوالو ته ئې د صابر د تحقيق او تنقيدي کار ارزښت په ګوته کړو. ډاکټر راج ولي

شاه ختـک خپلې خبرې د صابر د خلې پـه دې ټپـه ختمې کړې چې:

په چا به يو کلے ورانېږي
په جانان وران شو د اټک پورې ملکونه